

# حجاب او حُوانی

Ketabton.com

لیکوال:سیدمحمد سعادت

کال: ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

دحجاب تاريخ ........................................................................................................ 6
د حجاب حکم ........................................................................................................ 9
کوم خلک ښځي ته لاس نسی ورکولاي ......................................................... 12
حجاب په څو کلنی کې فرض دی ؟ .......................................................... 13
د شرعي حجاب گټې ........................................................................................ 14
د بې حجابۍ زيانونه ....................................................................................... 15
د اسلامي حجاب شرطونه .............................................................................. 16
د حجاب په اړه څو لنډې جملې .................................................................. 17
عبرتناکه څوابونه ............................................................................................ 18
دښځو آزادي نه بلکي فحاشی ....................................................................... 19
دوهمه برخه ......................................................................................................... 21
دځوانۍساتنه: ..................................................................................................... 21
د بد نظرۍ د بدوالي په هکله آياتونه او حديثونه. ...................................... 22
په لاس سره شهوت پوره کول ........................................................................ 27
داستمناءبدوالی .................................................................................................. 28
داستمناءباليدزيانونه .......................................................................................... 29
زناځه ته_وايي ....................................................................................................... 31
دزنابدوالی .............................................................................................................. 34

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماخذونه ........................................................................................................... 40**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

دآیات کریمه ژباړه: (ایا سره برابر دی هغه کسان چی پوهیږی دهغو کسانو سره چی نه پوهیږی )یا هیڅکله ندی سره برابر.

دهغه ذات ډیر شکر گذاره یم چی عالم ،قدرتمند او واحد دی چی ماته یی علم راپه برخه کړی دی او زما څخه یی پو شخصیت جوړ کی

گرانو لوستونکو کومه دقرآنکریم دآیات ژباړه چی تاسو ولیدل ددی څخه مراد دادی چی الله ج موږ ټولو ته دعلم د زده کړی آمر کوی ترڅو الله ج په ښه ډول سره پیژنو هرڅه چی نن ورځ موږ لرو داهم دالله ج راکړل سوی نعمتونه دی باید شکر یی آداکړو دعلم په واسطه سره ځان، کورنی اوټولنه جوړولای سو

گرانو لوستوونکو یاد کتاب چی می ترتیب کړیدی شاید ځینی ځایونوکی سهوه سوی یم نوبخښنه راته وکړی یاد کتاب می دټولنی داصلاح لپاره لیکلی ترڅودهیواد خویندی او وروڼه استفاده ځینی وکړی ، یاد کتاب دوی برخي لری چی اوله برخه یی دحجاب اړوند ده چی زیات دخویندو لپاره أشاره پکښی سویده ،دوهمه برخه دځوانی ساتنی اړوند ده چی زیات د دوروڼو لپاره أشاره پکښی سویده نوهیله کوم چی ترلوستلو وروسته یی پرخپل ځان،کورنی اوټولنی باندی عملي کړی ترڅو یو اسلامی ټولنه رامنځته کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړتیاوې

دکتاب نوم: حجاب او ځوانۍ

لیکوال: سیدمحمد سعادت (سیداحمد،سعادت)

ډیزان : سیدمحمد سعادت

کال: ۲۹/۹/۱۴۰۲

واټس اپ: ۰۷۰۳۷۳۵۷۴۶

بریښنالیک:sayedahmadsadaat46@gamil.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحجاب تاريخ

حجاب د اسلام د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مبارکو بیبیانو )د مسلمانانو د میندو( څخه پیل سو، د حجاب تر ټولو لومړی حکم په) ۵(هجري کال کي نازل سو،

دا هغه وخت وو چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د مور بي بي زینب رضي الله عنها سره نکاح وکړل؛ او حکم داسي وسو چي مومنان باید د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم و کور ته بې د اجازې داخل نسی چي په دې وخت کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ټولو بیبیانو پر دروازو پر دې وځړولې او د ټولو غیر محرمو راتگ بند سو

او په یوه روایت کي داسي راغلي دي چي نبي کریم صل ی الله علیه وسلم د حضرت بي بي عایشې رضی الله عنها د اکا زوی طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه د بي بي عایشې رضی الله عنها سره د ملاقات څخه بند کی.

د دې څخه دامعلومه سوه چي د پردې حکم د لومړي ځل لپاره د مسلمانانو و میندو ته وسو او بیا په قرانکریم کي و ټولو مؤمنانو ښځو ته حکم وسو چي اوس ئې حکم و ټول امت مسلمه ته دی او اُمُت مسلمه لونې باید حجاب خپل شعار وگرځوي د هجرت د (۳) کال څخه مخکي یو یهودي چي د بني قینقاع د یهودو څخه د مدینې منورې څخه په څه واټن باندي په خپل زرگری (د زرو په پلورنځی) کي ناست وو، چي یوه ښځه تېرېدد او مخ ئي پټ وو، دې یهودي ډېر ورته وویل چي مخ لوڅ کړي، او آخر ئي په یو چم سره د هغې حجاب ایسته کی؛ هغې چیغې کړې، او نارې ئې د مدینې منورې په ښار کي یو مسلمان واورېدې، چي هغه راغی او دغه یهودي یی ووهی ، ورپسي نور یهود راغلل او دا مسلمان ئې شهید کی،دا خبر و نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسېده؛ بالاخره نبي کریم صلی الله علیه وسلم یهود محاصره کړل، او د هغه یهودي ټول سامان ئې د غنیمت په توگه ووېسي او څه وخت وروسته دا یهودي و شام ته ولاړی او ډېر ژرهغه مړ سو، چي دا قصه مکمد په )سیرة ابن هشام، تاریخ کامل ابن اثیر(کي راغلې ده الله جل جلاد د بشریت ستر لارښود صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:

يَاَ أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِزْوَاجِكَ وَبَنَاَتك وَنِساءِ الْمُؤْمِنِينَ يدُنينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلاَبِيبِهِنَّ ذَلك أَدْنَ أَنْ يعُرفَنَ فَلاَ يُ ؤْذَيْنَ وَكَاَنَ الله غَفُورًا رَحِيمًا. (سورة الاحزاب: ۵۹ )

ترجمه: اې نبي )صلی الله علیه وسلم وواېه ښځو ته دې، لونو ته دې او ښځو د نورو مومنانو ته چي یټ دي کړي خپل ټول ځان په خپلو ټکریو (پوړنی)باندی دغه پټول دټول بدن نژدې دی ته دی چي و به پېژندل سي دوی چي اصیلی ښځي دي نو څوک به پردوی باندی دی دمینځوگمان ونه کړی او الله ښه بخښونکی او ډیر رحم کوونکی دی.

د ایت تفسیر:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني د ټول بدن د پټولو څخه وروسته د ټوکر یوه برخه پر سر او یوه برخه یې د سر څخه راکښته پر مخ وځړوئ )مخ پټ کړی(.په روایاتو کي راغلي دي چي ددې آیات دنزول څخه وروست ه مسلمانو ښځو به خپل مخونه او ټول بدنونه په خپلو ټکریو (پوړنو) سره پټول او بیا به دباندي داسي وتلې چي یواځې به د دوی یوه سترګه ښکا ره کیده چي په هغه سره لاره وویني، د دې څخه معلومه او ثابته سوه چي د فتنې او فساد په وخت کي ښایې چي آزادي اصیلې ښځې خپد څهره هم پټه کړي، او مینځی د شدید ضرورت د کبد نه دي مکلفې؛ حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکي: هغه ښځې چي حجاب یی مراعت کړی وي ددی لپاره چي ښه وپېژندل سي چي دا مینځه نه بلکه بي بي ده، د ننګ او ناموس مېړمن ده بدبخته او بد ناموسه نه ده، بد ذاته نه ده، بلکه دا نیکه بي بي او نېکبخته ده، نو ځکه بد نیته خلک هغوی ته لاس نه غځوي او حجاب ئې نښه ده، چي دا د حجاب د بهتری حکم دی، او د حیا سمبول دی.

علامه الوسي رحمة الله علیه په خپل تفسیر کي لیکي:

چي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د وینا مطابق جلباب وهغه څادر ته ویل کیږي چي ښځه ئې د پورته څخه تر کښته پوري پر ځان اچوي

حجاب باید زینتي او د جالب رنګ والا نه وي چه د خلکو نظرونه خپل طرف ته جلبوي لکه اوس وخت کې چې زنانه کوښښ کوي داسي حجاب واخلي چې خالونه،غمي او ښه ښایست ولري.

د حجاب هدف دا دی چه د ښځې زینت او ښایست پټ سي او د خلکو نظر ورته راوانه وړي، نو داسې پرده چې هغه د ښځې زینت ته د خلکو نظرونه کشوي حجاب نه بلل کیږی ، دقرآنکریم حکم (وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنَّ إلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَ ا..) نو باید حجاب د زینت ساتنه وکړي حجاب باید پراخ وي تنګ او چسپ نه وي ترڅو دبدن جګ او ټیټ ځایونه او اندامونه پکښی ښکاره نه سي لکه پتلون غوندې ښځې باید په جامو باندي عطر ونه وهي چي پر نامحرمو یې بوی ونه مښلی ترڅو د خلکو د توجو سبب سي ځکه دا عمل حرام دی او په احادیثو کې سختو او شدیدو الفا ظو راغلي چي دا ښځه زنا کونکې ده زنا کونکې ده چې د کوره دباندې یې د عطرو بوی پر نامحرمو ومښلي... د ښځې جامې باید د نر د جامو سره مشابهت ونه لري: ځکه چی په جامه کې د ښځې مشابهت د نر سره او د نرمشابهت د ښځی سره حرام دی.

(لَعَنَ رَسُولُ الله صَلَّ الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ الرجَّلَ يَلبَسَ لِبْسَةَ المَرْأةِوَالْمَرْأَةَ تلبَسَ لِبسةَ الرجَّلِ».)ابوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهٰ صلی اللهٰ علیه وسلم پر هغه سړ ي لعنت ویلی دي  چي د ښځو په رقم جامې اغوندي او په هغه ښځه يې لعنت ویلی چې د نر په رقم جامې اغوندي.

نو ښځه باید خپل لباس، جامې او حجاب ته د حکومت د امر په خاطر نه بلکه د اللهٰ تعالی او رسول الله د امر په خاطر فکر او توجه وکړي ځکه حجاب د ښځو لپاره د پت، عزت او د آبروساتلو وسید ده د دوی ټول بدن پټ ساتي همدارنگه خلک هم دهغوی د لیدو څخه منعه کوي نوکه چیری یوه ښځه بې حجابه د کوره ووځي نو ټدولو خلکو پام ور اوړی نو خپد هم گنهگاره سي او د نورو خلکو د گناه سبب هم سي.

رسول الله صلی الله علیه واد وسلم فرمايلي دي د نارینه ښایست په ږیره کي دی او  د ښځي ښایست په حجاب کي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حجاب حکم

الله رب العزت فرمائي:

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ★

ژباړه: [ای پېغمبره (ص)!] مؤمنو ښځو ته ووایه: چې خپلي سترگي تر کنترول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي .

او خپد ځان جوړونه او سینگار دي نه ښکاره کوي ماسیواد هغه څخه  چي په خپد ښکاره سي او پر خپلو سینو(تیانُ) دي د خپلو پوړنو پلوونه واچوي.

هغوی دي خپل ځان جوړونه (سینگار) نه ښکاره کوي، ماسیوا د دغه خلکو پر وړاندي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزیان)، ورونه، وربرونه، خوریان، د خپلي طبعي ښځي، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندي نارینه، چي ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چي لا تر اوسه پوري د ښځو د پټو خبرو سره بلدسوی نه وي، یعني: په دغو ماشومانو کي جنسي غریزې نه وي را ژوندۍ سوي.

هغوی دي پر مځکه باندي په زوره پښو وهلو (دربې ) سره په داسي ډول تگ نه کوي چي د هغوی د پټ سوی سینگار خلکو ته معلومات وسي .

اې مؤمنانو!  تاسي ټول په گډه سره الله ته توبه وباسئ، ښایي چي بری در په برخه سي

تفسیر: سینگار عرفاً خارجي او کسبي آرائش ته وایي: چې هغه د لباس زیور او نورو شیانو څخه حاصلیږي ددې عالم په نزد دلته د زینت ترجمه د سینگار په ځای که په زیبایی سره وکړل سي نو زیات جامع او مناسب واقع کیږي ځکه، چې د زیبایی (ښائست) لفظ هر ډول خلقي او کسبي زینت ته شامل دی.

مطلب دا دې چې زینت هغه که د جسمي خلقي پیدایښت سره متعلق وي یا د پوښاك او نورو خارجي ډول ډول څخه حاصل سوي وي د مطلب خلاصه دا ده چې ښځو ته د خپل هیڅ ډول خلقي یا کسبي ښائست ښکاره کول د خپلو هغو محارمو څخه ماسیوا، چې ذکر یې وروسته راځي د بل هیچا په مخ کې روا نه دی.

هو! د دومره اندازې ښائست ظهور چې  خلاصیت ځنی نسته او د هغه ظهور د عدم قدرت یا ضرورت په سبب نسي منع کېدای نو د مجبوریت یا ضرورت د مخې د هغه په ښکاره کولو کې مضائقه(باك) نسته (شرط دادی چې د فتنې بیره نه وي).

د احادیثو او آثارو څخه ثابتیږي چې مخ ، کفین (ورغوي) په (إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا) کې داخل دي ځکه، چې ډیر دیني او دنیوي ضروریات چې د هغو په لوڅولو دوی مجبوروي که د هغو د دنه ښکاره کولو حکم په مطلق ډول وسي نو ښځو ته به په کاروبار کې سخت تکالیف ورپېښ سي. برسېره پر دې فقهاؤ تدمین (تلې) هم په همدغو قیاس کړي دي، کد چې دغه اعضا مستثنی سول، نو د هغو متعلقات مثلاً گوتې ، نکریزي ، رانجه او نور هم ښایي په استثناء کې داخل ومنل سي لېکن باید پدی پوپاست چې په (إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا) سره صرف ښځو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت په وخت ددغو اعضاؤ په لڅولو کې اجازه ورکړل سوې ده.

نامحرمو سړیو ته د ګرسره اجازه نسته، چې دوی دې خامخا دغو ښځو ته وګوري یا د هغوی سره سترګې په سترګو سي او د دوی د اعضاؤ سیل وکړي.

ښاید د دغې اجازې څخه پخوا د همدې امله الله جل جلاله د مؤمنانو ته د غض البصر او د سترګو د ښکته اچولو حکم ویلی وي، پوهیږی چې د کوم غړي د لوڅولو اجازه ددې مستلزم نه ده، چې هغه ته دې کتل هم جائز وي تاسې نه ګورئ.

سره ددې چې نارینه په ستر د سره مجبور نه دي(البته نارینه هم د شریعت د نګاه څخه د ښځو د کتلو څخه منع سوی دی) مګر د لوړ آیات په اساس د ښځو کتل ورته روا نه دي، یعنې: ښځې د دې نه ممنوع دي چې نارینه ؤ ته وګوري ښایي چې په یادیې ولرو چې په دغه آیت کې محض د ستر د مسئلې بیان سوی دی.

یعنې: د دې څخه قطع نظر چې ښځه په کور کې وي که د باندې د ښځې د بدن کومه برخه د چا په مخ کې او په کومو حالاتو کې ښکاره کول جائز دي!؟

ښځې (۱۲) ډوله محرمو ته مخ ښکاره کولاسی ، خو داسي حالت کي به ورسره مخ کیږي، چې نور بدن يي پټ وي(مخ، لاسونه او د پښو چمبې ښکاره وي) دغه سي حالت کي به ملاقات ناسته او ولاړه ورسره کوي.

الله پاک فرمائي:

ژباړه: پخپلو کورونو کښې اوسی، او د تېر جاهلي دور غوندي سینګار سوی، بې سَتره مه ګرځئ لمونځ قایم کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ ..

الله ج خو دا غواړي چې ستاسي نبوي کورنۍ څخه چټلي ایسته کړي او تاسي په پوره ډول سُتره کړي .

تفسیر: یعنې پخوا د اسلامه د جاهلیت په زمانه کې به ښځې بې پردې ګرځېدې او د خپل بدن او د لباس ډول ښایست او د سینګار مظاهره او ښودنه به يې په اعلانیه صورت سره کول، ددغې بد اخلاقی او بې حیايئ وضعیت د مقدس اسلام په نزد منفور او مهجور وګرځول سو او ښځو ته يې صاف او پاك حکم صادر کړ.

چې دوی دې پخپلو کورو کې هستوګنه وکړي او د جاهلیت د زمانې په ډول دې د باندې نه وځي او نه دې د خپل حسن جمال، ډول او سینګار نمایش او ښودنه کوي.

د امهات المؤمنین فرض به پدغه امرکې د نورو په نسبت لا زیات موکدوي، لکه چې د (لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء) په تفسیر کې ذکر سوی دی.

باقی د کوم شرعی یا ضروري یا طبیعی احتیاج او ضرورت په بناء بې زینت او زیب په مبتذلو او غیر قابل الاعتناء لباسو کې د ستر او پردې د مراعاتو سره د دوی احیاناً د باندې وتل مشروط پردې، چې د ماحول په اعتبار د فتنې او فساد خوف نه وي بلاشبهه، ددې اجازت د نصوصو څخه مستفاد دی په خاصه د مطهراتو ازواجو په حق کې د هغه ممانعت نه دی ثابت بلکې د متعددو واقعاتو څخه ددغې خبرې ثبوت هم په لاس راځي لېکن د شارع د ارشاداتو ځینې بالبداهه دغه ظاهریږي، چې شریعت هغه نه خوښوي او په هر تقدیر همداسې حکم صادر دی، چې خامخا دې یوه مسلمانه ښځه په خپل کور کې کښېنی او د خپل کور زینت او سینګار دې جوړ او برابر کړي او د خپل د باندې وتلو څخه دی شیطان ته د کتلو او سترګو وهلو موقع ورنه کړی.

یادونه: کوم احکام چې په دغو آیتونو کې مذکور دی، د ګردو ښځو لپاره دی د مطهراتو ازواجو په حق کې، چې ددې تاکید او اهتمام زیات ضرورت و، نو ځکه په الفاظو سره دوی په خصوصیت سره مخاطبې ګرځولی سوي دي زما په نزد د (يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ) څخه، تر (لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء) پورې د دغو احکامو تمهید وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تمهید کې د دوو أشارو ذکر و یو د بې حیايئ د خبرې ارتکاب او د هغه انسداد هغه په (فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ) څخه تر (تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى) پورې وکړی سو.

بل د الله جل جلاد او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او صالح عمل دي د (وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ) څخه تر (أَجْرًا عَظِيمًا) پورې دوام لري خلاصه يې داسې سوه، چې د بدی د مواقعو څخه د ځان ساتنه او د نېکی په طرف سبق ښوولو ته ضروری دی.

مگر مطهراتو ازواجو ته د گردو ښځو څخه زیات دغه ضروری او حتمی دی د دوی د نېکۍ او د بدۍ وزن دوچنده ښودل سوی دی، د دغه تقریر سره موافق د (بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ) تفسیر هم بې تکلفه پوهېدلی کیږي.

وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ الله وَرَسُود.

#تفسیر: يعني د نورو څخه زيات تاسې ددغو شيانو اهتمام وکړئ! ځکه چې تاسې د امت لپاره نمونه یاست!

إِنَّمَا يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا.

تفسیر: د الله جل جلا اراده همداده، چې د نبی صلی الله علیه وسلم پر کورنۍ باندې ددغو احکامو تعميل په ښه ډول سره وکړي او دوی ښه صاف او پاك وگرځوی او سم د دوی د مرتبې سره دوی ته داسې قلبی صفائی او اخلاقی پاکی عطاء وفرمايي، چې په هغې سره دوی د نورو څخه فائقې او ممتازی وي (چې د هغې په لوری يې په (وَيُطَهِّرَكُمْ) کې د (تَطْهِيرًا) په تزئيد سره اشاره فرمايلې ده) دغه تطهیر او د رجس اذهاب همغسې نه دی، لکه چې د وضوء په آیت کې: (وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ) (د المائدی ۲ رکوع یا د (بدر) په قصه کې به: (لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيطَانِ) ( د الانفال ۲ رکوع دا ترې مراد سوی دی؛ بلکې دلته د تطهیر څخه د تهذیب النفس یا تصفیة القلب او تزکیه الباطن هغه اعلیٰ مرتبه مراد ده، چې اکملو اولیاؤالله ته حاصد وي او د هغې د حصول څخه وروسته اگر که دوی د انبیاء الله په ډول معصوم نه گرځی.

هو! محفوظ ویلی کیږي لکه چې د (يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ) فرمايل او د (ارادالله) نه فرمايل په خپله ددغې خبرې دلیل دی چې د اهل البيت دپاره عصمت نه دی ثابت.

ښتگه چې په قرآن کریم کې، د حجاب حکم نازل سوی همدارنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث شریف کې، چې امام ترمذی يې روایت کړی فرمائي:

المرة عورة، فاذا خرجت اشترفها الشيطان.ابواب الرضاع رقم الحديث ۱۱۷۳.

#ژباړه: ښځه عورة ده، که چیری ووځي شیطان يې، مسح کوي( ښځه د پردې شی ده، يعني: ښتگه چې د عورت پټول پکار دی همداډول د ښځې پټول د نامحرمو څخه پکار ده) نو که چیری بهر د کور څخه ووځي، نو شیطان يې د خلکو تر نظر ښائسته کړي او د خلکو لپاره يې جذاب کوونکې وگرځوي.

چې په دغه تگ لاره خلک او ښځې گمراه کړي.

ښځه روغېږ په لاس باید د چا سره وکړي؟

## کوم خلک ښځې ته لاس ورکولای سی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس ډود کسان دي، چې ښځې ته لاس ورکول ورته روا دي دیته محارم وایي (په لاس ورسره روغبړ کول).

اول: خاوند (میړه).

دوهم: د خاوند (میړه) پلار ،خُسر.

نوټ: احتیاط په دغه کې دی، چې د خُسر لاس هم مچ او په لاس روغبړ ورسره ونسي ځکه، دلته انسان په خپل اختیار کې نه دی که چیرې د خُسر یا مړور(اینګور) طرف څخه لږ شهوت را مینځ ته سي ابد لپاره طلاق واقع کیږي.

په دی کی ډیر احتیاط په کار دی داچی د دومره بدمرغی سبب کیږی، نو په خپلو کورونو کې دغه رواج پریږدئ.

دریم: پلار.

څلورم: زوی.

پنځم: ورور.

شپږم: اکا ،کاکا(تره).

اووم: وراره (د ورور زوی).

اتم: خوریی (د خور زوی).

نهم: ماما.

لسم: عامې مسلمانې ښځې.

## کوم خلک ښځې ته لاس نسی ورکولای

✕او یوولس ډوله کسانو ته شریعت جواز نه دې ورکړی چې ښځې ته لاس ورکړې (روغبړ ورسره وکړي) چې دوی ته نامحرم ویل کیږي:

اول: اخښی(د خور خاوند)، ځکه که چیرې ددې خور یې طلاقه کړې وی او یا هغه مړه سوی وی نو بیا کولی سې چې هغه د اخښي سره نکاح وکړي.

دوهم: لیور (د خاوند یا(دمیړه ورور).

دریم: د اکا زامن.

څلورم: د عمه زامن.

پنځم: د ماما زامن.

شپږم: د خاله زامن.

اووم: د میړه اکا.

اتم: د میړه ماما.

نهم: د خاوند (میړه)خپلوان.

لسم: او هغه چې د هغه سره یې نکاح صحیح کیږي.

یوولسم: ګاونډی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس لاس ورکول یوازې د محرمو لپاره جواز لري.

## دلائل د حرمت د لاس ورکول ښځې ته

◆اول دلیل: د معقل بن یسار رضی الله عنه څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که یو څوک ستاسو څخه پر سر باندې د اوسپنې په میخ (مختبیله) ټک وهل سي دا ورته ډیره بهتره دی د دې څخه چې لاس ور کړي هغې ښځې ته چې ورته روا نه وي

◆دوهم دلیل: د عائشه رضی الله عنها څخه روایت دې: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکله خپل لاس د هیڅ ښځې سره نه دې مښلولی، که چیری به ښځو بیعت کولو نو رسول الله به ورسره لفظي بیعت کولو او ورته ویل به یې ولاړې سئ ما لفظي بیعت در سره وکړی

◆دریم دلیل: د أمیمة بنت رقیقة څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ما ښځو ته لاس ندې ورکړی رواه النسائی (۱۴۸۱) او ابن ماجه(۲۸۷۴) و صححه الألباني "صحیح الجامع(۲۵۱۳)

او دغه لاس ورکول د ځینو ښځو سره ډیر واقع کیږي ځکه چې هغوی متوجه کړل سوی ندی

نو لازمه دا ده چې د دې څخه ځان وساتوو او خپل ناخبره ورونه او خویندې خبر کړو......

نوټ: ځیني کورنۍ خپلی ښځی په لاس ورکولو مجبوره کوي چی دا هم د شریعت مخالف کار دی.

یادابښت: ځیني کورنۍ کوم نا محرم چې پور ته ذکر سوه ستر نه کوي، نو دغه یو حرام کار دی.

باید د ټولو څخه په کلکه ستر وسي ځیني وخت په یو کورنۍ کي، ددغه خپلوانو څخه یو بد فعل هم را مینځ ته سي.

حتی ځیني خو لا داسي هم سته، چي د اکا، ماما او نوروخپلوانو سره....

پیغله انجلۍ او ځوان هلک یوازی سفر سره کوی او په یوازي کوټه کي بانډارسره کوي، چي دغه یو ډیر بد عمل او رواج دی.

## حجاب په څو کلنی کې فرض دی ؟

که چیرې ښځه بلوغ ته ورسیږي حجاب وربانديې فرض دی، مگر د بلوغ څخه ترمخکه حجاب کول مستحب او د فتنې څخه امن دی، والدین به خپلې لور ته د حجاب په اغوستلو امر کوي تر څو یی عادت سي چې علماؤ دغه سن د لمانځه په قیاس سره لس کاله ښوولی دی او د بې بې عایشې رضی الله عنها قول دا دی چې که انجلۍ ۹ کلنه سوه حجاب به اغوندي.

جاء في فتاوي اللجنة اللهائم ة:

إذا بلغت البنت : وجب عليها أن تلبس ما يستر عورتها ، ومنها : الوجه ، والرأس ، والكفان ، سواء كانت تلميذة أم لا ، وعلَّ ولي أمرها أن يلزمها بذلك لو كرهت ، وينبغي د أن يمرنها علَّ ذلك قبل البلوغ حتى تتعوده ، ويكون من السهل عليها الامتثال.[21].

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلوغ علایم په لاندې ډول دي:

۱: د نارینه او ښځینه د پاره احتلام کیدل (په خوب کې په شهوت سره انزال).

۲: د شرمګا پرځای د وریښتانو شنه کېدل.

۳: په ښځو کې د حیض ښکاره کیدل.

د بلوغ سن:

د بلوغ په سن کې د فقهاؤ کرامو تر مینځ نظر اختلاف دی.

صاحبینو امام یوسف او امام محمد، امام شافعی او امام احمد په نزد د بلوغ سن پنځلس کاله دی او د امام ابوحنیفه په نزد د هلک( ۱۸) کاله او نجلۍ ۱۷ کاله دی.

## د شرعي حجاب ګټې

۱: حجاب ایمان دي

۲: معنوي طهارت د ی

۳: عفت د ی

۴: ستر د ی

۵: حیاء د ه

٦: اسلامي اخلاق د ي

۷: د الله پاک د حکم تعمیل دی

۸: د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري

د ه

۹: د صحابیاتو ملګرتیا ده

۱۰: د منکراتو مخنیوی د ی

۱۱: د شیطان مخالفت د ی

۱۲: د بداخلاقیو سره مقابله ده

۱۳: د جاهلیت د رسمونو سره مبارزه ده

۱۴: د ښځینوو ښکلا د ه

۱۵: د حیوانیت څخه ځان ژغورل د ي

۱٦: د ټولنې پاکي او تزکیه ده

۱۷: د ګناهونو مخنیوی د ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸: د نارینوو سره د مشابهت ځخه ځان ساتل
د ي
۱۹: د اوسني یهودیت اونصارنیت سره مخالفت
د ی
۲۰: دپلار،ورور، او د خاوند د غیرت نښه ده.

## د بې حجابۍ زیانونه

۱: گناه کبیره د ه
۲: دهلاکت سبب د ی
۳: سبب د لعنت د الله تعالی ، رسول الله صلی الله علیه و سلم او ملائکو د ی
۴: صفت د جهنمیانودی
۵: د قیامت په ورځ د مخ د تور والي سبب دی
۶: منافقت دی
۷: فحشاء ده
۸: شرم او رسوایې د ه
۹: د ابلیس عمل اوتابعداري ده
۱۰: د یهودو اونصاراوو عادت او عمل د ی
۱۱: د جاهلیت بدبویه عمل دی
۱۲: د شر او فساد دروازه خلاصول د ي
۱۳: د ایمان ضعف د ی
۱۴: د دین ځخه لیري والی دی
۱۵: متعدی جرم د ی
۱۶: دالله پاک او د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفت د ی
۱۷: د شخصیت د منځه تلل د ي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸: د پلار،ورور او خاوند د بې غیرتۍ نښه ده

## د اسلامي حجاب شرطونه

۱: حجاب باید ټول بدن پټ کړی

مسلمانو ښځو ته الله (جل جلا د) داسې حکم کوي (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلابِيبِهِنَّ) جلباب همغه پراخه جامه ده چه ټول بدن پټوي.

مطلب دادی چې شرعي حجاب باید ټول بدن پټ کړي، او دا لوی ټکری یا چادر به د قمیس په رقم اغوندی، داسې نه چې د حجاب د چپنې یا لوی قمیس په رقم یو وړوکۍ ټکری وي چې سینه او نور بدن نه پټوي بلکې د قمیس په رقم به چادري، یا لوی چادر چې مخ هم وربانديې پټ وي اغوندي.

۲: حجاب باید نازک نه وي

د حجاب مطلب د بدن ستر دی داسې کمه پرده چې هغه بدن پټ نسی پټولای تر پردې لاندې وریښتان، جامې او نور ښکاري هغه ته حجاب نسو ویلای.

۳: حجاب باید زینتي او د جالب رنګ لرونکی نه وي چې د خلکو نظر خپل ځان وخواته جلب کړ ي د حجاب هدف دا دی چې د ښځې زینت او ښایست پټ کړي نو داسې پرده یا حجاب چې هغه د ښځې زینت ته خلک متوجې او جلبوي حجاب نه بلل کیږی، د قرآنکریم حکم دی (وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنهَا..) نو باید

حجاب د زینت ساتنه وکړي، په نن عصر کې ګلداره حجاب چې ډول ډول نقشی وربانديې سوي وي د اسلامی حجاب موافق نه دی بلکې د اسلامي حجاب خلاف یو فیشن دی.

۴: حجاب باید پراخه وي تنګ نه وي

ترڅو د بدن لوړې، تیټې برخې او د فتنې ځایونه ښکاره نسي، کومی ښځي چی تنګ اونازک لباس اغوندی، هغه ښځې د جامو با وجود بربنډې وي یعنې تنګې او نری جامې اغوندي د بدن ستر یې نه په پټیږ ي.

۵ د ښځې جامې باید په عطرو نه وي لړلي

چې په نامحرمو یې بوی ولګیږی ترڅو د خلکو د جلب سبب سي ځکه دا عمل حرام دي او ددې عمل په اړه په احادیثو کې شدید الفاظ راغلي دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که چیری ښځه خوشبویي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهي او د سرېيو ډلې تيريږي ترڅو د هغې دغه ښه بوی خلک حس کړي، نو هغه داسې او هغسې ده، ډېره سخته او شديده وينا او په بل لفظ نو هغه زناكاره ده (رواه ابوداود).

٦ د ښځې جامې بايد د نر د جامې سره هيڅ مشابهت ونه لر ي

ځکه چې په جامه کې د ښځې مشابهت د نر سره او د نر مشابهت د ښځې سره حرام دی.

«لَعَنَ رَسُولُ الله صَلَّ الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ الرجَّلَ يَلبَسَ لِبْسَةَ المَرْأة وَالْمَرْأةَ تلَبسَ لِبسَةَ الرجَّلِ .[11]»

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه سړي لعنت فرمائيلی دی چې د ښځو په ډول جامې اغوندي او په هغه ښځه چې د نر په ډول جامې اغوندي.

## د حجاب په اړه څو لنډې جملې

1 حجاب يعنې زه د هوس او وسوسې په انتي وايروس سمبال يم.

2 خپلو زلفو ته ورزده کړه، چې بهر د ليدلو ارزښت نه لري.

3 حجاب نيم ايمان دی.

4 د مسلمانې ښځې اصيلتوب د هغې پاک لمنې ده، چې حجاب يې تر ټولو مهم رکن دی.

5 اې ښځو خپلې ښکلا مه څرګندوئ، مګر د خپل محرم د پاره.

6 حجاب د ککړ ليد د غشي سره د مقابلې واکسين دی.

7 حجاب هغه ټينګ مرچل دی، چې ښځه د شيطان صفته نرانو د کتلو څخه خوندي کوي.

8 حجاب د پاک لمنۍ د ګل ښه بوی لرونکی بوټی دی. حجاب خونديتوب دی، نه محدوديت.

9حجاب يعنې د پاک لمنې ښځې حيا ء

10 د ښځې بې حجابي د نر د بې غيرتۍ د پيل دی.

11 څوک چې پاک لمنې وي، نو ارزښت او مقام به يې لوړ سي.

12 حجاب د ښځې خوندي پټنځای دی.

13 حجاب د ښځې د وقار او وياړ ښکارندويي کوي.

14 حجاب ښځه د معنويت لوړ مقام ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



15 حجاب د ښځې د کمال او ارزښت سر چینه ده.

16 حجاب د ښېګڼو د کولو ځواک او د تېروتنو او غلطیو څخه د مخنیو ي قوه ده.

17 حجاب د ښېګڼو او سپېڅلتیا مور ده.

18 حجاب نه پرېږدي، چې ټولنه په فساد باندې اخته سي.

19 حجاب مساوي کېږي د ټولنیزو زیانونو د کمښت سره.

20 حجاب د ښکلا او ستروالي د دوام ضمانت کوي.

21 د انسانیت مرغلره، تل په حجاب کې ولټوه.

22 درنې خورې د خپلو وینو سور والی مې ستا تور حجاب ته په امانت پرېښود.

23 حجاب هغه کلکه وسله ده، چې په هغې سره ښځه کولای سي، د خپلو حقوقو او ارزښتونو څخه دفاع وکړي.

24 درنو خویندو! ستاسو حجاب زما د سرو وینو په پرتله ډېر معتبر دی (د شهید وصیت).

25 د حجاب سره ښکلي اوسېدل تجربه کړئ.

26 حجاب یو فرهنګ دی، چې شهیدان هم پرې ویاړي.

27 حجاب دومره ارزښت لري، لکه اوبه.

28 حجاب د انسان د شخصیت ننبه ده.

29 درنې خورې! ستا حجاب ارزښت دی، نه بانه

30 حجاب د الله ﷻ د لوري ښځې ته یوه ښکلې ډالۍ ده.......

## عبرتناکه ځوابونه

ولې وشرمېږم ؟

لومړی : که چیري خلک د موبایل (تلیفون) په کوچنیو غوږونو کې د موسیقي د اورېدو څخه نه شرمېږې، نو زه ولې په خپل موبایل کې د قرآنکریم په اورېدلو وشرمېږم ؟

دوهم :که چیري ځوان هلکان د خپلو سرونو او ږیرو په خطکشي کولو، د خپلو ورېځو په جوړولو او پر بدن باندې د شنو خالونو (ټېټوس) په انځورولو نه شرمیږي، نو زه ولې د محاسنو او اسلامي ږیري په لرلو وشرمېږم ؟

دریم :که چیري پېغلې او ښځې د خپلو اندامونو او حساسو غړو په لوڅولو یا ښکاره کولو نه شرمیږي، نو زه ولې د بدن په پوښلو او حجاب اغوستلو وشرمېږم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: که چیري پېغلي او ځوانان د فاسدو غربي هنرمندانو په تقلید نه شرمیږي، نو زه ولي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنت او د اصحابو کرامو په پیروی وشرمېږم ؟

پنځم :که چیري خلک ( ښځي او نارینه ) په مجلسونو یا مېلمستیاوو کي په دو لعب (مسخری) ویلو، غیبت کولو او بېهوده ویلو نه شرمیږي، نو زه ولي په مجلسونو او میلمستیاوو کي د الله (جل جلاد) په ذکر او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په درود ویلو وشرمېږم ؟

شپږم : که چیري خلک د شیطان لمانځلو د تبلیغ او هوس لمسونکو خبرو څخه نه شرمېږي، نو زه ولي د پاک اسلام د دفاع څخه وشرمېږم؟

اووم : که چیري ځوانان او نجوني نامحرمو ته د پټ او ښکاره کتلو نه شرمیږي، نو زه ولي نامحرمو ته په نه کتلو او سر کښته اچولو وشرمي ږم ؟

اتم :که چیري فاسد ځوانان د فسق او فساد د تبلیغه نه شرمیږي، نو زه ولي د خپل سپېڅلي دین د تبلیغولو وشرمېږم ؟

نهم : که چیري نور د بدو او منفي مطالبو د خپرولو یا شېر کولو څخه نه شرمیږي، نو زه ولي د اسلامي مطالبو د خپرولو یا شېر کولو څخه وشرمېږم ؟

لسم : که چیري زلمیان، پیغلي، حتی پوخ سِنه کسان په واده او ښادی کي پر ستېج یا د هغه مخته په نخښدلو او پورته پورته غورځېدلو نه شرمیږي، نو زه ولي دباندي په لمونځ کولو او استغفار ویلو وشرمېږم ؟

اوس پوه سوې چي زه ولي د خپلو نېکو کارونو په کولو نه شرمېږم بلکي ویاړم ورباندې؟.

## دښځو آزادي نه بلکي فحاشي

یو شپون خپله رمه باندې ډیر مهربان و، هر وخت به یې د خپلو میږو ساتنه کول، ماځیگر به چې رمه د غر څخه راوسته نو د کور ټولې دروازې به یې قلف کړې، ترڅو چې لیوان رانسي او میږو ته څه ضرر ونه رسوي.

یوه شپه چې لیوان ډیر وږي سول نو د شپون کور ته ورغلل ترڅو چې د خپلو خیټو(نسو) چاره وکړي، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی د کور دروازې قلف ولیدلې نو ډیر مایوسه سول، بیا یې مشوره وکړه چې راځئ همدلته به لاریون(مازاریه) وکړو چې ولې شپون میږې او بزې بندې کړې دي؟ د میږو حقوق یې تر پښو لاندې کړي دي، میږې او بزې باید خپلې خوښې ته پریښودل سي ترڅو چې آزاده فضاء کې خپل ژوند څخه خوند واخلي.

میږو او بزو چې د لیوانو چیغې واوریدې نو زړونه یې باغ باغ سول، چې رښتیا هم لیوانو سره زمونږ د حقوقو غم دی، شپون خو مونږ ټول عمر بندیانې کړې یو، یوه ورځ مو هم خپلې خوښې ته نه پریږدي، نو راځئ چې نور د لیوانو په څېر آزاد ژوند وکړو، اوس خو هغسې هم ډیموکراسي ده لیوان په مونږ باندې کار نه لري.

دوهمه ورځ میږو او بزو هم چیغې شروع کړې، د لیوانو د دروغجنو شعارونو څخه متأثره سوې، نو په خپلو ښکرونو باندې یې دروازې ماتې کړې، تر دې چې د غر په لوري روانې سوې او لیوان وروسته پسې روان سول، شپون بیچاره ډیرې چیغې وکړې چې لیوان ستاسې دښمنان دي، غواړي چې دوکه درسره وکړي او د خپلو خیټو کار یې وسي، مگر میږو او بزو د شپون خبرو ته غوږ نه نیوه، بالآخره شپون هم مایوسه سو.

کله چې میږې او بزې د غر لمنې ته ورسیدلې نو لیوانو د خپل پلان مطابق عملیات شروع کړل، د ډیر وخت راهیسې چې پّ میږو پسی گرځیدل نن یې خپل زړونه په یخ کړل، میږو او بزو باندې یې حمله وکړه، ټولې میږې او بزې یې د سترگو په رپ کې ختم کړې، یوازې هډوکي یې پاتې سول.

نن ورځ چې غربیان او ډیموکراټان د ښځو د حقوقو او آزادۍ دروغجن شعارونه زمزمه کوي، د دوي سره هیڅکله د مسلمانو خویندو غم نسته دی، بلکې د دوي یوازینۍ موخه د مسلمانو خویندو عزت او عفت لوټ کول دي، ترڅو چې د ډیموکراسۍ تر چت لاندې د مسلمانو ښځو عزت هم د غربیانو ښځو په څېر لیلام سي، مسلمانه ښځه هم د هغه غربي ښځې په څېر یوازې د جنسي غریزې وسیله وگرځي، د مسلمانې ښځې عزت ته هر څوک لاس رسی ولري، ترڅو په ډیره آسانۍ سره اسلامي ټولنه په اخلاقي فساد باندې ککړه سي.

نو هر مسلمان باید پدې پوه سي چې د ښځو حقوق یوازې اسلام خوندي کړي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## دځوانۍساتنه:

## لومړی برخه بد نظري(کتل).

بد نظري عام لفظ دی، چي انسان کشرانو(لغړزنو،) نامحرمو ښځو ته او غیر اخلاقي شیانو ته په انټرنیټ کي ګوري، په داسي حال کي، چي وده ته خوند ورکوي او شهوت یي را بیداره کوي.

د نظر(کتلو) ډولونه:

۱ـ بده کتنه ده: چي انسان و داسي شیانو ته ګوري، الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ورته ناروا ناجائز کړي ده مثلاً: لغړزني ته د شهوت په نظر کتل، نامحرمي ښځي ته کتل(که څه هغه کوچنۍ، پیغله او سپین سرې وي،) لوڅ تصویرونه کتل، فاحش فلمونه کتل، فحش مجلي کتل، د نارینه یا ښځینه اندام ته کتل او د خلکو کورو ته کتل، چي ودي ټولو ته بد نظري وائي کومه، چي غټه(ګناه کبیره) ورته وائي.

【دي ته فضول النظر، سوءالنظر】 ورته وائي.

۲ـ ناڅاپه نظر: چي د انسان ناڅاپه نظر پر نامحرمه شي ولګیږی د مثال په ډول انسان په یوه لاره روان دی، نو تر سترګو یي ناڅاپه نامحرمه ښځه راسي؛ بلکي دی په داسي حال کي وي، چي شهوت یي را بیدار نه وي بیرته مخ ځني واړه وي بل طرف ته او که یي دوهم ځل قسطاً ورته وکتل او شهوت یي بیداره سو بیا ګناه کاره سو.

【دي ته نظرالفجأة】 وائي

۳ـ نظر د تفکر: چي انسان و شیانو ته په اعتبار او تفکر(فکر کولو) لپاره ګوري، لکه آسمان ته کتل، ستورو ته کتل او د دنیا کائناتو کي فکر کوي الله رب العزت څنګه پیداکړي دي!؟ ستوري څنګه ځلا لري!؟ آسمان رنګ څنګه شفاف شین دی!؟ او داسي نظر نورو شیانو کي ډیري ګټې لري او ثواب باندی ورکول کیږی .

【دي ته نظرالاعتبار】 وائي.

۴ـ د زړه نظر: چي انسان په خپل زړه کي نظر کوي د یو شي تصور ذهن کي راولي، چي دغه نظر دوه ـ۲ـ ډوله لري.

۱ـ هغه شیان دي، چي د الله تعالی عجائب دي او د هغو کیفیات ګوري دا جائز دی.

۲ـ دا بیا هغه شیان دي، چي په ذهن کي د یو شي تصور وکړي خو الله پاک هغه حرام کړي دي د مثال په توګه تصور د ښځې وکړي البته هغه تصور کي کی لڅه کړي یایی پربل اړخ کړي شهوتي تصورات ځان سره لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهوت پوره کوي دا ناجائز او حرام کار دی.

د سترگو نظر او زړه نظر فرق:

د سترگو د نظر گناه غټه ده نشبتاً د زړه نظر ته مگر که د زړه نظر قصد ټینگ کړي د ناروا نیت یي ؤ بیا د علماء په نزد دغه هم غټه گناه کي راځي.

مُتقي، نیک او پرهیزگاره انسان هغه دی، چي د دواړو رکمو نظر څخه ځان وساتي که د سترگو او د زړه نظر وي.

【دي ته نظرالقلب】 وائي.

۵ـ نظر تعجب: چي انسان که دیو شي ته په حیرانتیا وگوري، لکه په پښتو کي خلک وائي(مه ورته گوره! داسي نه چی نظر یي کړي!) او که چیري انسان یو شائسته

شي ته وگوري، په زړه کي هغه شي باندي دغه ښائست نه پیرزو کیږی دغه شی نظر کړي، چي نظر هم حق دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: 《العین حق》 ژباړه: نظر حق دی

قصده دغه کار کول ناجائز دي، حتی علماء د نظري انسان د بند محکوم کولو قائل دي.

۶ـ نظر تحقیق: دغه ډول نظر د تحقیق لپاره کیږي او شیانو کي د ښه او بد ځیړنه کوي، لکه د خرڅولو رانیولو په وخت کي د شیانو کتلو او یا د نکاح لپاره د هلک او انجلۍ کتل، چي ښه دي او که بد!؟ او داسي نور دا جائز او روا کار دی......

【دي ته نظرالتحقیق】 وائي.

۷ـ د مشاهدې نظر: دغه بیا د یو شی د لیدلو پوري تعلق لري، چي د بیعی سره یي زیات تعلق راځي، چي بیعه بیا ځان ته اوږد بحث غواړي د تفصیل لپاره

هدایة الصلوة ۳ جلد ته مراجعه وکړي او د نوي عصري مسئلو لپاره د تقي عثماني صاحب فقه البیوع ۲ جلده کتاب ته مراجعه وکړي.

دوهم

## د بد نظرۍ د بدوالي په هکله آیاتونه او حدیثونه.

الله رب العزت په خپل کلام مبارک د نظر ټیټ کولو امر کړی دی.

الله جل جلاد فرمائي :

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى دمْ إِنَّ الله خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ★

(سورة النور ۳۰)

ژباړه: ای پیغمبره (صلی الله علیه وسلم)!مؤمنو نارینه ؤ ته ووایه: چي خپل نظر تر کنټرول لاندي وساتي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه هغوی، چي څه کوي الله پرې خبرېږي .

تفسیر : بده کتنه عموماً د زنا لومړی بنسټ دی، چې د دی څخه د لویولویو فواحشو دروازې پرانیستل(خلاصې) کیږي  قرآن پاک عموماً د بدکارۍ او بې حیایۍ د انسداد دپاره لومړی د همدغه سوري د بندولو توصیه کوي یعني: مسلمان نارینه او مسلمانې ښځې ته یې حکم کړی دی، چې د بدو کتلو څخه ځان وساتئ! او خپل شهوت پخپل واك او اراده کې ولرې، که یو ځلې بې ارادې او ناڅاپه د کوم نارینه نظر پر کومې پردۍ ښځې ولوېد یا د ښځې سترګې پر کوم پردي نارینه ولګېدې، نو بیا دې په ارادي او قصدي ډول د هغه په لوري خپلې سترګې نه اړوي ځکه، چې دا دویم ځل لیدل به دده په واك او اختیار کې وي او په هغه کې به معذور نه ګڼل کیږي.

که انسان ځان په دې سره عادي کړي، چي خپلو ښو ته وګوري او په خپل اختیار او اراده سره د ناجائزو امورو پر خوا ونه ګوري، نو ډېر ژر دده د نفس تزکیه کېدای سي که چیرې اول ځل ناڅاپه کوم اتفاقی نظر لویږي د شهوت او نفساني غوښتنې د سببه نه وي، نو ځکه په حدیث شریف کي هغه معاف ګڼل سوي دي ښایي، چي دلته یې هم په ( مِنْ أَبْصَارِهِمْ ) کې ( من ) د تبعیض د پاره اخیستی وي او همدې ته اشاره وي ( او ودي ساتي دوی فرجونه خپل د محرماتو په مقابل کې ) یعنې د حرامکارۍ څخه خپل ځانونه وساتي! او خپل ستر او پرده دې هیچا ته نه خلاصوي ( لاعند من اباحه الشارع من الازواج وماملکت ایمانهم ) ( دغه حفظ ډېر پاکیزه او ګټور دی دوی ته په دنیا او په عقبا کې ښشکه، چې الله جل جلاد ښه خبر دی، چې په هغو کارونو چې کوي یې او په هغه نظر، چې کوي یې په حلال او حرام او همداسې په استعمال د جوارحو په اطاعتونو او ګناهونو )

یعني: د سترګو غلا او زړونو اسرار او د نیتونو حال ټول الله جل جلاد ته معلوم دي، نو په دې اساس انسان ته ښایي، چي تل د غه علام الغیوب حاضر او ناظر وګڼي او د بدو افعالو، بدو خیالاتو او بد کتلو او د هر ډول بدو چارو څخه ځان وساتي که نه نو هغه به د خپل علم سره سم تاسې ته سزا درکړي.

( يَعْلَمُ خَائِنَةَ الأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ) ( د المؤمن ۲ رکوع ).

حضرت شاه صاحب رحمه الله د ( مَا يَصْنَعُونَ ) څخه غالباً د جاهلیت د زمانې بې اعتدالي مراد اخیستې دی یعني: هغه بې اعتدالي ، چې پخوا مو کولې هغه ټولې الله جل جلاد ته معلومې دي، نو ځکه هغه اوس د خپل رسول په وسیله دغه احکام صادر کړي دي، چې ستاسي تزکیه پري وسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف:

عن حذیفه رضی الله تعالی عنه قال: قال (سیدنا) رسول صلی الله علیه وسلم 《النظرة سهام اِبلیس مسمومة، فمن ترکها من خوف الله أثابه جل وعز اِیمانا یجد حلاوته فی قلبه》 .

ژباړه: د حضرت حذیفه رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی وایي: چیزموږ سردار رسول صلی الله علیه وسلم و فرمائل: بد نظر د ابلیس(لعین) د غشو څخه زهر لړلی غشی دی، که چا د الله تعالی د بیرې څخه پریښووی، نو دی بزرگ او عزتمند به داسي اطمنان په برخه ورکړي، چي په زړه کي به یي خوند وگوری.

مطلب:

دا چي هر څوک دی بد نظر څخه ځان وساتی ، لغړزنو او داسي نامُحرمو انسانانو ته دی په شهوت سره نه گوري، نو هغه به د لومړی ځل لپاره د گناهونو دسرچینې څخه په ساتنه کي وي او سره د دی، چي دا بد نظر دی د الله تعالی د بیري پریږدي، نو خوند به یي په زړه وگوری او دا هم معلومه خبره ده، چي څوک بد نظري نه کوی، هغه به د شیطان لعین د دوکو او وسوسو څخه په امن وي.

مهمه نقطه:

بد نظري کول د شیطان د غتو جالونو څخه یو پولادي جال دی کم، چي مسلمانان په ښکارکولای سي او بد نظر کول د ابلیس لعین یوه ناولې او مهلکه لاره ده، چي ځیني نارینه او ښځینه یي څه ناڅه په بدی پوهیږي.

مگر دوی د هوس پر لاره روان دي هیڅ یی خپل ځان ته فکر نسته، چي موږ د یو لوی حماقت کردار په لور روان یو.

د سترگو د مثال په هکله مطلب:

او په دې پوهیدل په کار دي، چي د سترگو مثال داسي دی، چي د الله رب العزت د بیرې څخه اُوښکې توی کي، نو د دُوږخ اُور باندي حراميږی.

همدا ډول که یو وگړی د الله جل جلاد په لاره کي بدخابه سي، نو د آخرت تکلیفونه به وربانديي رانه سي.

دریم

## دبدنظری په هکله اقوال:

لومړی دحضرت داودعلیه السلام وینا:

ای پرهیزگارو انسانانو! راسئ چي د الله تعالی څخه د بیرې طریقه در زده کړم خبر دار! هر هغه بنده، چي خوښه بولي چئ زه ژوندی سم او پخپل ژوند کي نیک عملونه وکړم! نو هغه دي خپلي سترگې د حرامو څخه وژغوري او خپله ژبه دي د درواغو څخه وژغوري، بیشکه د الله پاک رحمت پر صادقانو دی او دی یي دغمونو په وخت کي د آواز اوریدونکی دی.

سبحان الله! الله رب العزت انسان ته څونده اسانه لار ښوولې ده صرف د انسان لپاره د خپل پروردگار عالم لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخلاص سره ژوند په کار دی، نو چي انسان اخلاص ولري یوازي دانه چی دنیا کي خوشحاله ژوند لري؛ بلکي آخرة کي به یي د جنت په نعمتونو نازه وي.

نو ای! مسلمانه وروره او مسلمانې خورې وخت لرو د الله رب العزت د ستر نعمت شکر گذاره به څانونه جوړ کړو...

دوهم د حضرت عیسٰی علیه السلام وینا:

د بد نظرۍ څخه ځانونه وساتئ! ځکه دا په زړه کي د(گناه) شهوت پیداکوي او دا په اعتبار سره و بد نظري کوونکي ته پوره گناه او فتنه ده...

دریم د حضرت داود طائي رحمه الله وینا:

حضرت داود طائي رحمه الله وایي: ماته دا خبره رارسیدلې ده، چي امام مجاهد رحمه الله په خپل کور کي یوه بالاخانه درلودل، مگر ده د پرهیزگارۍ په خاطر دیرش کاله، د بد نظرۍ ساتلو په خاطر ورونه ختی.

څلرم حضرت داود بن عبدالله رحمه الله:

د ډیره پرهیزگارۍ څخه یې شناخته ښځې ړوند وباله.

حضرت ابو عبدالله بن حسان رحمه الله:

د بد نظرۍ د بیرې په خاطر په عیدگاه کي یوې ښځې ته هم نه کتل! چا چي به پوښتنه ځنې وکړه، چي تا نن عید گاه کي ښځه ولیدل؟ ده مبارک به ورته وویل نه ما یوه ښځه هم نه ده لیدلي...

دحضرت ابن جوزي رحمه الله وینا:

هغه مبارک فرمائي: ډیر عالمان او لوی بزرگان د بد نظر په خاطر د الله ج د رحمت څخه محرومه سوي دي، د عبودیت د دیوانه پري ووتل.

دوی لومړی بده کتنه پیل کړه، نو که یي لومړی ځل ځان ځني ساتلی وای، د عبودیت د دیوانه نه وتل.

تشریح:

د پخوا زمانې څخه را شروع نن عصر پوري که وکتل سي بزرگان، عالمان او پوهان د بد نظرۍ په خاطر د عبودیت د دفتره یي نوم ایستل سوی دی.

خاص نن عصر کي ځوانان او پیغلي د بد نظر څخه د نه ساتلو خاطر د لویو فتنو ښکار سوي دي.

خپل ژوند د الله ج د رحمت څخه محروم کړي، دنیا ژوند یی د ذلت سي او په آخرت کي د رب العلمین د درد ناک عذاب مستحقین وگرځي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلرمه برخه دځوانۍساتنه!

دبدنظرۍ لپاره عذاب:

۱: په اووه مختلفو کیسو کي را نقل سوي دی ، چي الله پاک ځینو بزرگانو ته د بد نظر کولو په خاطر عذاب ورکړی او د خپل دفتر څخه یې نوم ور پاک کړیدی د شیطان دملگرو په لیست کي یې شامل کړیدی.

۲: حضرت محمد حقی رحمه الله تعالی فرمایلي: د لغړزنو، کوچنیانو سره او بې عقلانو سره ناسته غټه مکروه ده دوی سره شناخت د انسان رعب، غیرت، حیا ختمه وي او د خلکو د تهمت سبب جوړیږي.

نوټ: مکروه چي مطلق سي مراد مکروه تحریمي دی.

۳: حضرت ابي طبري رحمة الله علیه فرمائي: ما الله رب العزت په خوب ولیدی او دايي وفرمايل: چي زما دي خپل جلال قسم وي زه څوک د خپل رحمت څخه نه شړم مگر هغه څوک شړم، چي هغه د لغړزنو او پیغلو د نظر ښکار سوي وي (نعوذباالله من هذا)

۴: حضرت امام القاضي بیضاوي رحمه الباري فرمائي: چاچي یوواری د لغړزني څخه په شهوت باندي مچه واخستل! ، لکه ده چي د خپل مور سره اویا واری زنا وکړه(استغفرالله واتوب الیه) د مور سره یوځل زنا کول! دومره گناه لري، لکه د اویا پیغلو سره، چي زنا وکړي او یوې پیلغې سره زنا کول! دومره گناه لري، لکه د اویا ښځو سره زنا وکړي.

انا لله وانا الیه راجعون

نو ای ځوانه او پیغلې! چي انسان د یو مچې څخه دومره اندازه گناه کي لویږي، نو د زنا او لواطت انجام او گناه به څومره یې؟

دا معلومه خبره ده، چي مچه د زنا او لواطت کولو لپاره کیلي ده..

نو د الله رب العزت څخه به لاس په دعا کیږو، چي یاالله ته ددغه بد کار څخه نجات راکړي

دنجات لاره یې:

۱: انسان باید د لڅ پڅ تصویرو، ویډیو، هلک، انجلۍ او غلط سریالونو څخه ځان وساتي.

۲: پلار، مور او د کورنۍ مشر باید د خپل اولاد څارنه وکړي، تر څو د بدو مخنیوی وکړي او د نیکو هدایت ورته وکړئ، د غلط شیانو استعمال او غلطو ملگرو څخه یي ساتنه وکړئ...

۳: د بیکاره ملگرو، فحش مجلس، ناوړه ناولونه او هر نوع نشیه توکو څخه باید ځان وساتئ، ځکه دغه لوبړی هغه لاملونه دي، چي نوی ځوان او پیغله بدو کارو ته تېله کوي او دي ته یي هڅه وي، تر څو په بدو کارو لاس پوري کړي.

۴: خپل کشر ته یو اندازه پیسي ورکول، تر څو خپل یو ضرورة په رفع کړي، البته څارنه بې کوي، چي په غلطه لار مصرف نه کړي اکثره هلکان د پیسودنه موجودیة څخه غلطو لارو ته مخه کوي، چي د هغه اصلاح کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بيا ډېر ستونزمن سي...

پينځم

## په لاس سره شهوت پوره کول:

په لاس سره شهوت پوره کول په لغت کښي (موټ وهنه) ورته وايي، چي د منيو ايستلو تمنا ورته ويل کيږي او په اصطلاح کښي: انسان تناسلي اندام لاس که خپل وي او که د بل حرکت ورکوي او قذر(مني) ځني خارج کولو ته وايي.

په عربي کي(استمناء باليد)، يا (نکاح اليد)، يا (الخضخضة)، يا (جلد عميرة)، په فارسي کي(مشت زني)، په اردو کي(جلق) او په انگريزي کي (Masturbation )يعني: ماسټر بيشن ورته وايي.

همدارنگه نن عصر کي دا بد کار په ښځو کي هم پيداسوی دی او هغوی خپل شهوت په گوته او يا په بل شي سره پوره کوي او د خوند اخيستلو ذريعه يي گرځوي.

استمناء باليد څنگه پيل سو؟

د لومړی ځل لپاره د افريقا په ښارونو کي پيل سو او ځينو تاريخ پوهانو ورته فرنگيانو ويلي: چي دا عمل په بني اسرائيلو کي يو سړي شروع کړی، چي هغه(اُنان) نوميدی او د يهودا د زامنو څخه ؤ.

د ځينو د نظره معلوميږي: چي دا عمل لوطيانو پخپله زمانه کي شروع کړی، لکه څرنگه چي د لوطيانو په اعمالو کي يي ذکر راتلونکی دی.

بيا کرار کرار پسي خپريدی، چي نن سبا ټول نړۍ کي په پوره معنا اوج ته رسيدلی، نارينه او ښځينه په اخته سوی.

البته دقيق معلومات يي نسته، چي دغه خبيث عمل لومړي ځل لپاره چا کړی دی؟ او که د پخواني اسلامي تاريخ د رويه ورته وگورو! نو دغه لعين کار به شايد لومړی شيطان ايښي وي، چي هغه د هرې گناه اول اختراع کوونکی دی، نو په دي معنا ليري خبره ندی، چي دا کار دي لومړی شيطان نه وي کړي ځکه اول کفر په مخلوق کي ده وکړی، نو استمناء باليد به هم ده شروع کړی وي.

والله اعلم باالصواب.

عربي متن: الاستمناء: مصدر استمنی، أی خروج المني.

واصطلاحا: اخراج المنی بغير جماع، محرما کان، کاخراجه بيده استدعاء للشهوة، او غير محرم کاخراجه بيد زوجه. وهو أخص من الامنا، والانزال فقد يحصلان فی غير اليقظة و دون طلب، أما الاستمناء فلابد فيه من استدعاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



المنى فى يقظة المستمنى بوسيلة، ويكون الاستمناء من الرجل و من المرأة.

نوټ: مذکور پښتو عبارت يي خلاصة وه.

همداډول ابن عابدين رحمه الله المتين فرمائي: د نارينه او ښځينه بدن سره ټچ(مږل) که څه هم فرده يي ترمينځ وي گناهکاره دی.

شروانی على التحفة کې ليکي: که يي قصد ؤ، ضم کول د ښځې سره که څه حائل وي استمناء واقع کيږي د روژې مفسد گرځي.

همدغه قولونه علماء شافعيه او مالکيه رحمه الله اجمعين نقل کوي...

شپږمه

**داستمناءبدوالی**

١: الله پاک قرآن کريم کي فرمائي :

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ★

او هغه (کسان) چي د خپلو شرم(خاص) ځايونو ساتنه کوي.

تفسير: الله پاک هغه مؤمنان کامياب بللي، چي د خپل لمانځه حفاظت کوي، د عبث بيکاره کارونو څخه ځان ساتي، د زکاة ورکړه کوي او د خپل خاص اندامونو ساتنه وکړي.

وروسته اياتونو کي هغه لارې مؤمنانو ته ښيي، چي د شهوت پوره کولو لپاره جائز گرځيدلی دي .

إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ★

ماسيوا د خپلو مېرمنو او خپلو مينزو څخه پر نورو باندي خپله( جنسي غريضه) پوره کول روا نه دي .

فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ★

(سورة المؤمنين ٥ـ٦ـ٧)

البته که څوک د هغې ماسيوا نور څه وغواړي، همغوی ظلم کوونکي دي. تفسير : يعنې د خپلې منکوحې ښځې يا مينځې څخه ماسيوا بله کومه لاره د شهوت د پوره کولو لپاره ولټوي، نو دی د حلالو د حدودو څخه وتونکی دی، په دې کې زنا ، لواطت او استمناءباليد او نور ټول غير مشروعه صورتونه داخل د مثال په ډول ځينو مفسرينو د ( متعه ) پر حرمت هم په همدغه آيت استدلال کړی دی ( وفيه کلام طويل لايسعه المقام راجع روح المعانى تحت هذه الاية الکريمة ).

تفسير: مفسرينو رحمه الله ويلي دي: هغه کسان، چي د خپلي حلالې منکوحې ښځې څخه او د هغې مينځې څخه، چي تصرف باندي لري، په نورو طريقو سره خپل شهوت دفع کوي استمناء، زنا او لواطت باندي، نو بيشکه دغه کسان د شريعت د حد څخه تجاوز کوونکی دي، چي شرعي امر نه مني.

استمناء اليد ملعون دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حدیث شریف کي روایت دی، چي نبي کریم(صلی الله علیه وسلم) فرمائي:

خبر دار سئ ای اصحابو! الله پاک لعنت کړی دی پر هغه کس، چي څاروي(حیوان) په نکاح کړي، پر هغه کس لعنت کړی، چي استمناء(موټ) وهلو باندي او پر هغه کس لعنت کړی، چي نارینه ۇ ته د 【خپل شهوت پوره کولو لپاره】 راځي.

او په بل روایت کي را نقل سوي دي، چي استمناء بالید ملعون دی.

استمناء بالید د الله پاک د رحمت څخه محروم دی:

د اخروي سزاؤ په اړوند په یو روایت کي را نقل سوي دي، چي (درط) داسي کسان دي چي نه الله تعالی 【د رحمت په نظر】 ورته ګوري نه خبرې ورسره کوي او نه يې 【د ګناهونو څخه】 پاکوي؛ بلکي دوی لره دردناک عذاب دی.

لومړی خو هغه کس دی، چي: د بدن سپین وینښته کاږي، دوهم هغه کس دی چي: د ځانه سره نکاح کوي(استمناءبالید) او دریم هغه کس چي په خپله د لواطت فعل کي مفعول وي (دیوچا هلک وی)

د قیامت په ورځ به دردناک عذاب وي دوي لره:

د حضرت ابن جریج رحمه الله فرمائي:

ماد حضرت عطاء بن رباح رحمه الله څخه واوریدل، چي ده وفرمائل: (بیشکه د قیامت په ورځ به داسي یو قوم الله تعالی را پورته کړي، چي لاسونه به یي حمل داره وې او دابه هغه کسان وي، چي دوی په دنیا کي په لاسونو باندي موټان وهلي وي.

اووم

## داستمناءبالیدزیانونه:

۱: لوی څښتن تبارک تعالی په ناراضه کیږي ځکه دا غټه ګناه ده.

۲: د رحمت فریشتي لیري کوي.

۳: د عبادتو خوند او برکت ختموي.

۴: د جریان ناروغي پیداکوي.

۵: د ملا درد پیداکوي.

٦: دماغ او عصابي رګونه کمزوري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷: بدن کمزوری کوي، چي د دوام  له امله یې نا مردې او کهالي پیداکیږي.
۸: په ډیر استمناء(موټ وهلو) سره د زړه دوره هم پیداکیږي او په زړه کي ډول ډول فکرونه او وسوسې پیداکیږي.
۹: د سترګو نظر کمزوری کوي.
۱۰ـ بي غیرتیا پیداکوي، یعني: انسان بې غیرته ګرځوي، ځکه د دې څخه مردانه قُوت ختمیږي.
۱۱: په دیني کارونو کي د شرم ماده پیداکوي، د مثال په توګه: کله چي استمناء وهونکی په یو مجلس کي کښیني، حال دا چي ده ته د خبرو کولو اجازه هم ورکول سي او دده خبرې کول په هغه مجلس کي لازمي وي، نو دی به په داسي د ښیګڼو او خیرخواهۍ په ځایونو کي شرمیږي او سره د دې، چي شرم کول په داسي مواردو کي ښه نه دی؛ بلکي دا یو غټ تاوان دی.
۱۲: د زړه اندیښنې او غمونه زیاتوي.
۱۳: پر مخ ګرمکې او داني پیداکوي او توره وې یې، بي نوره کوې یې.
۱۴: د زنا، لواطت  غوندي بد فعلیو ته یې سوق پیداکوي، چي دا ټول غټ کبیره ګناهونه دې.
۱۵: تناسلي آندام کوږوالي ته مائل کوي.
۱۶: د حلالې نکاح څخه یې رغبت ختمیږي.
۱۷: د تیانو او ځنګنو درد پیداکوي.
۱۸ـ د عقل او حافظې قوت کمزوری کوي.
۱۹: په زیات کولو سره د سوزک ناروغي پیداکیږي.
۲۰ـ د بي همتۍ لامل ګرځي یعني: انسان بي همته کوي او د ژوند تیرولو څخه یې نفرت پیداکوي.
۲۱ـ د سرعت انزال او احتلام ناروغي پیداکوي.
۲۲: د زیات کولو سره د سل ناروغي، پیداکیږي.
فائده: دا هغه ډول-ډول تاوانونه او ناروغۍ دي، چي الله رب العزت د استمناء(موټ وهونکی) ته په دنیا کي سزاوي ګرځولي دي.
د اُخروي ذکر خو په مخکنیو عنوانونو کي تیر سو، چي کله دوی د آخرة په ورځ را پورته سي، نو لاسونه به یې بلارب حمل دار سي.
دغه تاوانونه مې د منقولاتو او معقولاتو څخه رانقل کړه، ترڅو د نارینه او ښځینه، چي دغه بد فعلۍ اخته وي امید لرم د نجات سبب جوړ سي! د خپل ژوند راتلوونکی د ناوړه فعلونو څخه وژغوري او په اخلاص توبه وکاږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(استغفرالله واتوب الیک)

یادابنت :

انسان چي استمناء کوي، نو یو سبب ورته مهیا سي، بس د هغه د کبله دغه بد فعل کوي، مختلف سببونه دي

د ژغورلو طریقه یې:

۱: د چاچي شهوت پر جوش راسي، نو کلمه طیبة(لا اد الا الله محمد رسول الله) دي ووایي، نو دغه د شهوت د جوش آرامولو او د فتنې ځخه انسان ژغوري او ښه مُجربه طریقه یې داده: چي اُووه واری دی یې ووایی ځکه بیا به یی وروسته په خوند پوه سي.

۲: د ورځي سل واری (یَا مَلِکُ!یَا عَزِیْزُ!) ویل هم یوه مُجربه نسخه ده چي ځینو په تجربه رسولې ده.

۳: څوک چي زنا، لواطت او استمناء او یا یوه زنانه مساحقت (زنانه او زنانه د یو بل شهوت) پوره کولو باندي و بیریږي دغه لاندي ذکر مفیده نسخه ده :

(یَا حَيُّ! یَا قَیُّومُ! بِرَحْمَتِکَ أُسْتَغِیْثُ أَصْلِحْ لِيْ شَأْنِیْ کُد)

هغه وخت، چي شهوت غالب سي دغه دعا دي ووائي او د شهوت قابو کولو لپاره مجربه نسخه ده.

۴: یا دي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا مبارکه دعاء ووایي :

( اَللّٰهُمَّ عَافِنِیْ مِنْ شَرِ سَمعِیْ وَ بَصَرِیْ وَ لِسَانِیْ وَ قَلْبِیْ وَ شَرِ مُنِیّیِ).

اتم

## زناڅشي ته وایي:

زنا ته په لغت کښي فاحش او بد کار ته ویل کیږي او په اصطلاح کښي ودي ته وایي: چي انسان خپل تناسلي اندام په ناروا فرج کي استعمال کړي، یعني: انسان د یوې پردۍ زناني سره نژدیکت وکړي، نو ودي ته د عامو فقاء په نیزد باندي زنا وایي.

په عربي کي(الزنا)، یا (فاحشة)، فارسي او اردو کي هم زنا او انگریزي کي (Adultery)یعني: اډلترې ورته وایي.

زنا څنگه پیل سوه؟

ابن جریر، ابن المندر، ابن ابی حاتم او بیهقی (رحمه الله اجمعین) د حضرت عباس (رضی الله تعالی عنه) په حواله را نقل کړی دی، چي هغه یپلا دا آیت شریف ولوستی: وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْأُولَىٰ★

نوټ: بشپړه معنا او تفسير يې وروسته ذکر کوو، چې نورو خبرو سره هم اړيکه لري..

او دايي و فرمائل: چې د حضرت نوح عليه السلام او د حضرت آدم عليه السلام په مينځ کي د زرو کالو فاصله وه، نو په دې مينځ کي د حضرت آدم عليه السلام د اولادي څخه دوې ډلي پاتي سوې.

يوه ډله يي په اواره مځکه اوسيدل او بله ډله يې په غرونو او شگلنه مځکه کی اوسيدل او د اوارې مځکي نارينه ډير بدشکله وه او ښځي يي ښائستي وي او د غرونو (شگلنې) مځکې والا ؤ نارينه ډير ښائسته او ښځي يي بدشکله وې، نو هغه مهال ابليس(شيطان) د اوارې مځکې د اوسيدونکو يو سړی ته د يو ښائسته زلمي په شکل کي راغلي

د هغه غلام جوړ سو د هغه سره به اوسيدی او خدمت به يې کوی، نو بيا ابليس(شيطان) د څارويو په څير يو لرگی جوړ او هغه يو آواز کوی، چي دا ډول آواز مخکي خلکو نه ؤ اوريدلی، نو دغه خلکو مشوره وکړه، چي په کال کي يوه ورځ به د خوښۍ جوړه کړو او پکښي راټوليږو به، نو دغه ورځ باندي نارينه ؤ ځانونه ښځو ته ښائسته کول.

د غرونو يو نفردوی ته راغلی ؤ او بيا يی هغوی ته حال ورسوی، چي هلته داسي ښائسته ښځي سته، هغوی هم دغه ورځي ميلې ته راتلل او د ښځو سره يي ليده کاته کول او دغه رکم زنا پيل سوه.

الله پاک رب العزت فرمائي :

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ الله وَرَسُود إِنَّمَا يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا★ 【سورة الاحزاب ۳۳】

ژباړه: پخپلو کورونو کښي مېشتي اوسئ، او د تېر جاهلي دور غوندي سينگار کړي، بې سَتره مه گرځئ. لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او د الله جل جلاد او د هغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) اطاعت وکړئ. الله جل جلاد خو دا غواړي، چي ستاسي نبوي کورنۍ څخه چټلي ايسته کړي او تاسي په پوره ډول سُتره کړي. تفسير : يعنې پخوا د اسلامه د جاهليت په زمانه کې به ښځې بې پردې گرځېدې او د خپل بدن او د لباس ډول ښايست او د سينگار مظاهره او ښودنه به يې په اعلانيه ډول سره کول ددغې بد اخلاقۍ او بې حيايئ وضعيت د مقدس اسلام په نزد منفور او مهجور وگرځول سو او ښځو ته يې صاف او پاك حكم صادر كړ، چې دوی دي په خپلو كورو كې هستوگنه وكړي او د جاهليت د زمانې په ډول دې د باندې نه وځي او نه دې د خپل حسن جمال ډول او سينگار نمايش او ښودنه كوي، د امهات المؤمنين فرض به پدغه آيات كې د نورو په نسبت لازيات موكد وي، لكه چې د ( لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء ): په تفسير كې وښودل سوه پاته د كم شرعی يا ضروري يا طبيعی احتياج او ضرورت په بناء بې زينت او زيب په مبتذلو او غير قابل الاعتناء لباسو كې د ستر او پردې د مراعاتو سره د دوی احياناً د باندې وتل مشروط په دې، چې د ماحول په اعتبار د فتنې او فساد مظنه نه وي بلاشبهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې اجازت د نصوصو څخه مستفاد دی. بالخاصه د مطهراتو ازواجو په حق کې د هغه ممانعت نه دی ثابت؛ بلکې د متعددو واقعاتو څخه ددغې خبرې ثبوت هم په لاس راځي لېکن د شارع د ارشاداتو ځینې بالبداهه دغه ظاهرېږي، چې شریعت هغه نه خوښوي او په هر تقدیر همداسې حکم صادر دی، چې خامخا دې یوه مسلمانه ښځه په خپل کور کې کښېنې او د خپل کور زینت او سینګار دې جوړ او برابر کړي او د خپل د باندې وتلو څخه دی شیطان ته د کتلو او سترګو غورځولو موقع بنده کړې یعنې: ښځې خپل کوم اعضاء د نارینه ؤ په مخ کې ښکارولی سي؟ او خپل کوم اعضاء دې پټ کړي او کشف یې ناجائز دی؟ ددې پوره تفصیل د ( النور ) په سورت کې بیان سوی دی.

یادونه: کوم احکام چې په دغه آیات کې مذکور دی د ګردو ښځو لپاره دی د مطهراتو ازواجو په حق کې کله، چې ددې تاکید او اهتمام زیات ضرورت و، نو ځکه په الفاظو سره دوی په خصوصیت سره مخاطبې ګرځولی سوي دي ( يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ) څخه تر ( لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء ) پورې ددغو احکامو تمهید وو په تمهید کې د دوو شقوقو ذکر و یو د بې حیایئ د خبرې ارتکاب او د هغه انسداد هغه په ( فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ ) څخه تر ( تَبَرُّجَالْجَاهِلِيَّةِالأُولَى ) پورې وسو  بل د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او صالح عمل دغه سلسله  ( وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ ) څخه تر ( أَجْرًا عَظِيمًا ) پورې دوام لري خلاصه یې دا سوه: چې د بدی د مواقعو څخه د ځان ساتنه او د نېکی په طرف سبقت ګردو ته ضروری دی مګر مطهراتو ازواجو ته د ګردو ښځو څخه زیات هغه ضروري او حتمي د دوی د نېکۍ او د بدۍ وزن دوچنده درول سوی دی د دغه تقریر سره موافق د ( بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ) تفسیر هم بې تکلفه پوهېدل کیږي.

وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ الله وَرَسُول

تفسیر : یعنې د نورو څخه ډېرتاسې ددغو شیانو اهتمام وکړئ! ځکه چې تاسې اقرب او د امت د پاره نمونه یاست!

إِنَّمَا يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا

تفسیر: د الله جل جلاله اراده همداده, چې د نبی صلی الله علیه وسلم پر کورنۍ باندې د دغو احکامو تعمیل په ښه ډول سره وکړي او دوي ښه صاف او پاك وګرځوي او سم د دوي د مرتبې سره دوی ته داسې قلبی صفائي او اخلاقي پاکی عطاء وفرمایي: چې په هغه سره دوي د نورو څخه فائقې او ممتازی وي ( چې د هغه په لوري یې په ( وَيُطَهِّرَكُمْ ) کې د ( تَطْهِيرًا ) په تزئید سره اشاره فرمایلي ده ) دغه تطهیر او د رجس اذهاب همغسې نه دی، لکه چې د وضوء په آیت کې : ( وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ ) ( د المائدی ۲ رکوع یا د ( بدر ) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصه کې به : ( لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشيطَانِ ) ( د الانفال ۲ رکوع دا ترې مراد سوی دی؛ بلکې دلته د تطهير څخه د تهذيب النفس تصفية القلب او تزکيه الباطن هغه اعلیٰ مرتبه مراد ده، چې اکملو اولیاؤ الله ته حاصل وي او د هغې د حصول څخه وروسته اگر که دوی د انبياء الله په ډول معصوم نه گرځي هو! محفوظ ويلی کيږي، لکه چې د ( يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ ) فرمايل او د ( ارادالله ) نه فرمايل پخپله ددغې خبرې دليل دی، چې د اهل البيت د پاره عصمت نه دی ثابت.

يادونه: په نظم القرآن کې تدبر کونکيو ته د يوې لمحې د پاره هم پدغه خبره کې هيڅ شك او شبهه نشی واقع کېدای، چې دلته د اهل البيت په يادولوکې يقيناً مطهرات ازواج داخل دي ځکه، چې ددغه آيت څخه لومړی او وروستی په ټول رکوع کې ډير خطآبت د هغو سره سوی دی او د ( بيوت ) نسبت هم پخوا په ( وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ ) او وروسته په ( وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ ) کې د هم دوی په طرف کړل سوی دی، سبيره پردې په قرآن کې عموماً دغه لفظ په همدغه برابراستعمال سوی دی.

د حضرت ابراهيم عليه السلام ښځې بي بي سارې رضي الله عنها ته د خطاب کولو په وخت کې پرښتې ويلی و ( أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ الله رَحْمَتُ الله وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ ) ( د هود ۷ رکوع ) د بيت نسبت د مطلقی ښځې په طرف سره لدې څخه، چې د نکاح د قيده وتلې هم ده مگر د عدت د مدې د تېرولو د پاره هم لا د خپل مېړه کره ناسته ده پدغه آيت کې ذکر سوی دی : ( لاَ تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ ) ( طلاق اول رکوع ۲۸ جزء ) د حضرت يوسف په قصه کې هم د بيت نسبت د بي بي زليخا رضي الله عنها په طرف کل سوی دی ( وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا ) ( د يوسف ۳ رکوع ) په هر حال په ( اهل البيت ) کې دلته د ازواجو دخول يقيني دی؛ بلکې د آيت خطاب لومړی د هغو سره دی مگرکله، چې اولاد او زوم هم پخپل ځای په اهل البيت ( کوروالاؤ ) کې شامل دی، لکه لا زيات استحقاق لري لکه، چې د احمد د مسند په يوه روايت کې د ( احق ) د لفظ څخه ظاهريږي ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د جانبه حضرت فاطمه ، علی ، حسن او حسين رضي الله عنه ته په يوه څادر کې ځای ورکول او د دوی په نسبت ( اللهم هولاء اهل بيتی ) او نور فرمايل او د حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنها د کور د قريبه د تېرېدلو په وخت کې د الصلوة اهل البيت : ( يُرِيدُ الله لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ ) خطاب کول ددغه حقيقت د ظاهرولو لپاره و که چېرى ددې آيت نزول ظاهراً د ازواجو په حق کې دی او د هغو سره مخاطب کيږي مگر دغه حضرات هم په طريق الاولی سره پکښې شامل او ددغه لقب مستحق او د تطهير د فضيلت اهل دي پاته ، کله چې مطهرات ازواج د قرآني خطاب لومړی مخاطبان دي نو ځکه د دوی په نسبت دې اظهار او تصريح ته ضرورت نه دی پاتې والله اعلم باالصواب.

نهم

**دزنابدوالی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلام احکام دوه ډوله دي يو ډول يي جائز او بل ډول يي ناجائز، کوم ډول جائز وي دهغه په کولو باندي امرسوي دی او په کولو باندي يي په دنيا کي عزت او په آخرة کي يی په نعمتونوبدله ورکول کيږي او ناجائز ډول باندي د کولو څخه يې منع راغلي په کولو باندي يي په دنيا کي ذلت او په آخرة کي عذاب ورکول کيږي.

د الله پاک فرمائي:

وَلاَ تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلاً★ 【سورة الاسراء ٣٢】

ژباړه: زنا ته مه نژدې کيږئ، هغه ډېر بدکار دی او ډېره بده لاره ده.

تفسير : يعنې زناکول خو ډير بدکار دی تاسي زنا ته گرسره مه نژدې کيږئ په (وَلاَ تَقْرَبُواْ ) کې زنا د دواعيو او مباديو څخه د نه نژديوالی او نه تقريب هدايت کړل سوی دی يعنې: پردی ښځې ته د شرعي عذره ماسيوا کتل او نظرکول، چي د مسخرو (گپه ) او لاس وروړل (لمس) او نورو څخه يی ځانونه وژغورئ او بيخې د پرديو ښځو د مقاربته لرې گرځئ ځکه، چې د زنا څخه په انسانانو کي بې نظمی اوبې ترتيبې او ستونزې پيښيږي او ډير جنگونه اوجگړی ترې پيداکيږي او دگردو لپاره يوه بده لاره منځ ته راځي حضرت شاه صاحب ليکې: که دغه لاره جوړه سي نو يو سړی به د بل سړي پر ښځه نظر اچوي او هغه به دده ښځې ته گورې ) د امام احمد(رحمه الله) په مسندکي راغلي دي، چې يوه سړی رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته عرض وکړ، چې ماته اجازه راکړه، چې زنا وکړم چې ددې خبرې په اوريدلو گرده حاضرين ورته په قهر سول، چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په مخ کې داسې سپين سترگي کوي چپ سه، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وويل، چې ماته رانژدې سه کله چې دی ور نژدې سو نو هغه يې په خپله خواکې کښيناوه او ويې فرمايل: چې ايا ته دغه حرکت د خپلې (مور خور عمه خاله) او نورو په نسبت خوښوي هغه عرض وکړ، چې يا رسول الله زه ترتا جار قربانسم د هيچا سره يې نه خوښوم، نو رسول الله مبارك و فرمايل: چې نور خلک هم ستا غوندې دي اوهيڅوک د خپلو ميندو، خويندو، عمه گانواو نورو په نسبت دغسې کار نه خوښوی. بيا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته دعا وکړه، چې ( ای! الله تعالی جل جلادله دده گناه معاف کړه او زړه يې پاک کړه او فرج يې وساته)

ابوامامه فرمايي: چې د دغه دعا څخه وروسته دغه سړی داسې متقې سو، چې ښځو او نورو ناروا و ته به يې گرسره نه کتل.

( اللهم صل علی سيدنا محمد وعلی ال سيدنا محمد وعلی اصحاب سيدنا محمد وبارک وسلم) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزنا بدوالي

۱: او په حديث شريف كي راځي: ايمان يو قميص دی په هغه چا يي الله پاک اغوندي، چي خوښه يې سي، نو كله چي بنده زنا كوي الله رب العزت دا قميص ځني وكاږي بيا، چي كله توبه وكاږی نو بيرته دا د ايمان قميص باندي واغوندي.

۲: او په يو بل روايت كي د حضرت حذيفة بن اليمان(رضی الله تعالی عنه) څخه نقل سوی دی: چي رسول الله(صلی الله عليه وسلم) و فرمايل: ای! مسلمانانو! د زنا څخه ځانونه وژغورئ ځكه په دي كي شپږ خويونه دې، دري خويونه يې په دنيا كي دي او دري يې په آخرة كي دي.

كم چي په دنيا كي دي هغه: يو دا دی چي د انسان د مخ رُعب ختموي، عمر لنډه وي او د فقر هميشتوب پيداكوي.

او كم چي په آخرة كي دي هغه دادی ددغه انسانه به الله پاک ناراضه وي، سخت حساب به ورسره وكړې او دوږخ كي به هميشتوب وركړي.

۳: دوو نورو حديثو كي روايت سوی دی: چي ايمان د زنا په حالت كي د مؤمن څخه وځي او ځني جلا كيږي او تر هغه وخته به دا بنده بې ايمانه وي، تر څو الله تعالی ته توبهوكاږي.

۴: په يو اثر كي نقل سوی دی: الله پاک موسی عليه السلام ته و فرمايل: ای مُوسی! زنا او غلا چي ونه كړئ ځكه بيا به زه ستا څخه خپل ديدار پټ كړم!...

نو ای ځوانه او پيغلي! الله رب العزت خپل رسول ته داسي خطاب كوي، چي زنا او غلا مه كوه، نو زموږ لپاره يې خطاب په اعلی درجه دی، نو راسئ د الله رب العزت امر پر ځای كړو، تر څو مو ژوند عزت باندي تير سي او د آخرة د شديد عذاب څخه نجات پيداكړو.

دنيا كي دا په وار وار موږ ته تجربه سوې ده، چي كم نارينه او ښځينه زنا كوي دنيا كي الله پاک خلكو ته رسوا كړي ژوند يي بيا په ذلت كی تير سي په ټولنه كي د عمر، تر اخره يې تور داغ پر لمن باندي وي كه څه هم دوی په اخلاص سره پروردگار عالم ته توبه كاږلی وي.

كم انسان كه دغه بد كار كوي لومړی دي هغه د نبي عليه السلام خبره ياد كړي، چي د خپل مور، خور او نورو اقرباء حق دا قبلوې، نو كه يي جواب يی يا وي، نو د بل مور او خور بايد دغه اندازه زيات وساتل سي، نو هيڅ صورة بايد زنا ته لاره هواره نه كړې.

لسم

**دزناأُخروي سزاوي:**

مخكي مو لږ اجمالي ذكر وكړ د ايات شريف او حديثو نبوي څخه، نو دلته به څه بيان په تفصيل سره، چي ايت، حديث، اثارو او په اصولو كی دی بيان كړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: کله چي د قبره څخه د قیامت په ورځ باندي زنا کار را پورته سي، نو د فرج څخه به يې داسي بد بُوی خي، چي د محشر خلک به ډېر په تکلیف وي.

دوهم: کله چي د آخرت په لومړی کور کي، چي قبر دی کښیښنول سي، نو نکیر او منکر به سختي ورڅخه پوښتي وکړي؛ زناکار یا زناکاره به يې په جوابونو باندي قدرت نه لري.

دریم: کله چي د لوی رب العلمین جل جلاله په حضور کي ودریږي، نو رب تعالی به سخت حساب ورسره وکړي.

څلرم: الله پاک به څني ناراضه وي.

پنځم: الله رب العزت به يې دخپل دیدار څخه محرومه کړي.

شپږم: الله رب العزت بي و دوږخ ته د پرمخي کشولو امر وکړي.

اووم: کله چي يي دوږخ ته ننباسي، نو د دوږخ مشر به يې، چي (مالک) نومیږي د اُور زغره ورواغوندي او په یو اثر کي نقل سوي دي: چي حضرت موسی علیه السلام یوه ورځ الله پاک ته وویل: ای! زما ربه ته په آخرت کي و زناکار ته کم عذاب ورکوي؟ نو الله تعالی ورته و فرمایل: زه د اُور یوه زغره په اغوندم! که دغه پر یو غټ (جګ) غره باندي کښیښنول سي، نو ایره به سي.

اتم: کله چي د اُور زغره په واغوستل سي، نو مالک خپل چوکیدارانو ته امر وکړي: چي سترګي يې د اُور په میخونو ور سُوری کړئ! ځکه ده په دنیا کي پخپلو سترګو وه نا محرمه فرج ته کتلي دي.

نهم: زاني به په آخرت کي د حُورالعین څخه او د هغوی د ګټې اخیستلو څخه محرومه وي او داسي زناکاره ښځه به د غلمان او د هغوی د ګټې اخیستلو محرومه وي.

لسم: الله تبارک و تعالی به يې دومره وخت دوږخ کي کښینوي، چي و حساب ته به يې عقل عاجزه وي.

نوټ: دا هغه سزاوي وي کم، چي مختصر ډول مو دلته ذکر کړي، نو ای انسانه! ته لږ فکر وکړه، چي د دنیا تر عذاب د آخرت عذاب څو چنده درد ناک دی او زغمل يي د انسان، تر برداشت کولو تیره خبره ده، نو بیا ولي دومره د الله رب العزت د امر نافرماني کوو.

هلته بیا پیسې، شناخت، قرابت او واسطه نه منل کیږي حتی پلار د زوی، مور د لور، ورور د ورور، خاوند د میرمنې او قریب د قریب څخه تیښته کوي، چي د دنیا د یوه ذره شی حساب یی نوی راسره پاته، نو چي دومره د حصرت ورځ وي راسئ اوس به لا د آخرت د عذاب څخه ځانونه وساتو او د خپل رب العلمین امر او نواهي پر ځای کړو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوولسم

## دزنادنیاوي سزاوي:

هره گناه، چي انسان کوي الله تبارک وتعالی اُخروي سزا ورکوي د اُخروي گناه، تر څنگ الله پاک دنیا کي زناکار انسان ته هم شدید عذاب ورکوي.

دلته هغه دنیوي سزاوي اجمالاً ذکر کوو، چي ایاتونو، حدیثونو، اثارو او د سلف صالحینو څخه را نقل سوي دي.

۱: د ایډز ناروغي پیداکوي.

۲: د سوزک مریضي پیداکوي.

۳: د زیات کولو څخه د زړه دوره هم پیداکوي.

۴: د سترگو نظر (دید) کمزوری کوي.

۵: د ملا، تناسلي اندام، لاسو، پښو او د هډوکو درد پیداکوي.

٦: زړه او دماغ کمزوری کوي.

۷: د جریان او سرعت انزال ناروغي پیداکوي.

۸: د بندونو درد او سستي پیداکوي.

۹: زنا د بي برکتۍ لامل گرځي ځکه، چي کور، مال، اولاد او داسي نورو د هر شی بي برکتي راولي، لکه حدیث شریف راغلي، چي زنا د فقر او مسکنت سبب کیږي.

۱۰: پر کلی او ښار د عذاب لویدلو او مصیبت لامل گرځي.

۱۱: د عام مرگ لامل گرځي، چي په عامو انسانانو د هغه ځای مرگ پوري سي.

۱۲: د طاعون (وبا) وچ کالۍ او د رشوت د زیاتیدلو سبب گرځي.

۱۳: د خیره د محرومه کیدو سبب جوړیږي.

۱۴: زنا په مځکه کي د زلزلي راتللو لامل کیږي.

۱۵: د دعا د نه قبلیدو لامل گرځي.

۱٦: زنا کول پر ځان، هغه اولادونه چي زنا څخه پیداکیږي، پر هغې ښځې چي زنا ورسره کوي او پر خاندان د زناکار او زناکارې ظلم راځي.

۱۷: د زنا کولو څخه نسب خرابیږي، چي اولادونه د هغه زناکار څخه و زیږي، نو د هغه نسب به معلوم نه وي او د ارموني (ولدزنا) نوم کښیښول سي.

۱۸: زنا د انسان حیا د مینځه وړي.

۱۹: زنا د غیرت ختمیدلو سبب گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰: زنا د زړه نورانیت وژني او زړه د شیطانی تیارو او وسوسو ډکوي.

۲۱: پر زنا همیشتوب انسان د الله پاک، ملائکو او مخلوق څخه ملعون گرځوي.

۲۲: پر زنا همیشتوب کول د بدن بدبویي راولي.

۲۳: د مسلمان زاني څخه د زنا حالت کي خپل شیرین (ایمان) جلا کیږي.

۲۴: زنا د صله رحمی ختمولو سبب کیږي.

نوټ: یوه بل دنیوي سزا رب العزت ورته ټاکلې ده، چي هغه ته حد او رجم ویل کیږي، نو دغه سزا ورکول د اسلامي حکومت مسئولیت دی، چي زاني سړي او زانیه ښځې ته ورکوي.

کم نارینه او ښځینه چی د نکاح خاوندان وي هغو ته به د رجم (ډبرو ویشتلو) سزا ورکوي.

که یې نکاح نه درلودل هغو ته به بیا د (سلو) درو وهلو سزا ورکوي او دغه سزا به د عام خلکو منځ کي وي، تر څو د نورو خلکو د عبرت سبب وگرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

–[1]سوره النور: ۵۲.

–[2]سوره الرعد:۲۹.

–[3]سوره الاحزاب:۵۹.

–[4]رواه ابوداود: ۱۸۳۳، ابن الماجه: ۲۹۳۵، صحیحه ابن خزیمة: ۴/۲۰۳.

–[5]رواه ابن خزیمة: ۲۰۳ /۴ و حاکم: ۶۲۴ /۱ و صحیحه ووافقه الذهبي و صححه الالباني.

–[6]رواه البخاري.

–[7]سوره النور: ۳۱.

–[8]أحمد: )۲۹۶/٦(، و أبو داود) ۴۱۱۲(، و الترمذي) ۲۷۷۸(، و النسائی فی «الکبری)»۹۲۴۱(، و ابن حبان في «صحیح ه)»۵۵۷۵.( –[9]سوره النور: ۳۱.

–[01]سوره الاحزاب:۳۲.

–[11]رواه ابؤداود.

–[21]فتاوی اللجنة اللهائمة ” ۱۷ / ۲۱۹ , ۲۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر لاس لاندی آثار

۱: دسیدمحمد سعادت شعرونه

۲: غزلي او شعرونه

۳: د ډنډولسوالۍ عمومی تعلیمی وضیعت ارزول

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**